**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پيغمبر صلى الله عليه وسلم هجرت؛ د غار، کوترې او عنکبوت کيسه نه؛ بلکې دولت، رهبري او امامت دی!**

(ژباړه)




**خبر:**

۲۰۱۷م کال د سپټمبر ۲۱مه د ۱۴۳۸هـ.ق کال د محرم مياشتې لومړۍ ده.

**تبصره:**

د هر نوي هجري کال په پيل کې ډېری عالمان، خطيبان او مدرسين له مکې نه مدينې ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هجرت له بېلابېلو زاويو خبرې کوي؛ خو ډېری يې د دې پېښې له واقعيت او هغو تغيراتو څخه، چې امت ته يې لويې پېښې راوړي، لرې او بې خبره دي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د هجرت پېښه زموږ له ژوند سره ډېر ورته والی لري. په هغه وخت کې فارس او روم دوه لوی قدرتونه وو او عربو څه نه لرل. داسې قبيلې وې، چې ډېری وخت به يې په دښتو کې مهاجرتونه کول او ډېری وخت به د اوبو پر سر سره جنګېدل. مکه معظمه چې د «ام القرى» په نامه يادېده، د بت پرستۍ بنسټ او مرکز وه. رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه وخت هجرت وکړ، چې غولوونکي وړانديزونه ورته وشول. رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې قدرت، شتمنۍ او ټول څيزونه وړانديز کړل؛ خو هغه صلى الله عليه وسلم ټول رد کړل او د رسالت او تبليغ لارې ته يې ادامه ورکړه. هغه د دغو وړانديزونو پر وړاندې خپل کاکا ته وويل:

**«يا عم، والله لو وضعوا الشمس في يميني، والقمر في يساري على أن أترك هذا الأمر حتى يظهره الله، أو أهلك فيه، ما تركته»**

***ژباړه:*** *اې کاکا! پر الله سبحانه وتعالى قسم که لمر مې په ښي لاس او سپوږمۍ مې په کيڼ لاس کې راکړي، چې له خپل* ***دعوت*** *نه لاس واخلم، نو دا کار به هېڅکله ونه کړم؛ تر هغه چې الله سبحانه وتعالى دغه دين غالب کړي او يا په دغې لاره کې مړ شم.*

دغه شرطونه له هجرته مخکې وو او دا چې مکه نوره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت لپاره وړ ځای نه و، نو مناسبه وه، چې دعوت له دغه ښار او ټولنې څخه یوه بل داسې ښار او ټولنې ته، چې د دعوت لپاره وړ ځای وی او خلکو یې ملاتړ کړی وی، لېږدول شوی وی؛ چې یقیناً هغه ځای مدینه منوره وه.

د مکې د هغه وخت واقعیت زموږ له نني واقعیت سره داسې دی، چې په مکه کې اسلامي دولت نه و نن هم نشته. ظالمو او سرکشو حکومتونو( امریکا، روسیې او چین) د بشریت پر ستونې پښه اېښې،لکه څنگه چې په هغه وخت کې فارس او روم داسې کول. همدارنگه د مزدورو حکامو په رهبرۍ نني بې ارادې او کمزوري دولتونه د هغه وخت د عربو قبایلو په څېر دي. د فلسطین په مبارکه خاوره کې د یهودو دولت نن د هغه وخت د مدینې منورې د یهودي قبایلو رول لوبوي.

نن ورځ د دغه لوی امت مخلص او تقواداره دعوت کوونکي هغه خلک دي، چې د امت تر ټولو مهمه موخه لېږدوي؛ لکه څنگه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحابو یې دغه مهم امر لېږدولو او دې موخې ته د رسېدو لپاره یې لويې قربانۍ ورکړې او هېڅکله د ظالمانو ظلم او ځورونې یې د لارې خنډ نه شوې، نو هغه څه چې له هغه وخت سره ورته والی لري دا دي، چې نني دعوت‌کوونکي د جاهلیت حالت د تغیر او د اسلامي دولت د بنسټ اېښودلو لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاره تعقیبوي، هغه دولت چې د حق پلي کول، عدالت، خیر، برکت او ... نعمتونه به ورسره وي.

بل هغه څه چې له هغه وخت سره ورته والی لري دغه دي، چې نن ټول کفري هېوادونه پر دعوتگرو فشار راوړي او همدارنگه هغو خلکو، چې د غربي ثقافت فریب یې خوړلی، پر دعوت‌کوونکو یې میدان تنگ کړی. نو دغه دعوت‌کوونکې د حضرت عمار، یاسر، خبیب، بلال او... رضی الله عنهم په څېر دي. که څه هم پر دعوت‌کوونکو فشار راوړي، خو بیا هم دعوت‌کوونکي د نبوت پر منهج د راشده خلافت نږدې والي ته خوشاله دي، لکه څنگه، چې دغه پېښه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او اوس او خزرج قبیلو تر منځ رامنځته شوه. یادې قبیلې(اوس او خزرج) د حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه په لاس په مدینه منوره کې مسلمانې شوې او ورسته یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت مرستې او نصرت ته را ودانگل. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل، چې د اسلامي دولت د تاسیس په موخه د انحضرت دعوت خپلې سیمې ته ولېږدوي؛ تر هغه چې مدینه منوره یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر قدمونو روښانه کړه او هغه یې د اسلامي دولت پلازمېنه وټاکله.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو مهاجرینو (چې د دعوت لېږدوونکي وو) او انصارو (چې د قدرت او ځواک خاوندان وو) او هغو کسانو تر منځ چې نن د اسلامي دولت د تاسیس او د اسلام د دین د عزت لپاره کار کوي (د دعوت لېږدونکي) او په اسلامي نړۍ کې د ځواک خاوندو مسلمانانو (د قدرت او نصرت خلک) لکه د پوځ افسرانو او ټولنو د رهبرانو له پرتلې په بشپړه توگه په ډاگه کېږي، چې د دولت د رامنځته کېدو عناصر له مکې وخت سره پوره ورته‌والي لري. یقینا موږ د تغیر نښانې په ښکاره توگه وینو او د الله سبحانه وتعالی په خوښه د کامیابۍ د سهار وړانگې ډېرې نږدې وینو. نو اې د قدرت او ځواک خاوندانو! تاسې د الله سبحانه وتعالی د دین مرستندویان یاست.

**﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا کُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ کَمَا قَالَ عِیسَى ابْنُ مَرْیَمَ لِلْحَوَارِیِّینَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِیُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ﴾**

(صف: ۱۴)

**ژباړه:** *اې مومنانو! د الله تعالی د دین مرستندویان شئ لکه څنگه چې د مریم زوی عیسی علیه سلام حواریونو ته وویل: د الله تعالی لور ته په بلنه کې زما ملاتړي څوک دي؟ ځواب یې ورکړ موږ د الله تعالی د دین مرستندویان یو.*

هو، د دعوت نصرت پر تاسو فرض دی، درته جایزه نه ده، چې د الله سبحانه وتعالی د دین نصرت یوه شېبه وځنډوئ. پوه شئ، درته جایزه نه ده، چې ژوند او د ظالمانو د ظلم وېره مو د الله سبحانه وتعالی د دین له نصرت څخه غوره وبولئ. د راشده خلافت د عاملینو

نصرت وکړئ او د مدينې د خلکو په څېر، چې پروني انصار وو؛ نني انصار شئ. دا لوی ویاړ به د چا په برخه شي او د چا په لاس به د اسلام او مسلمانانو عزت بېرته راشي؟ له تاسو څخه به څوک د الله سبحانه وتعالی په رضا لاسته راوړلو کې بریالي شي او څوک به له صادقينو سره وي؟ الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

**﴿قَالَ اللَّهُ هَذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾**

[مائده: ۱۱۹]

**ژباړه:** *د قيامت پر ورځ الله تعالی فرمايي: دا هغه ورځ ده، چې رښتينو ته به د هغوی رښتينولي ګټه رسوي. د دوی لپاره د جنت داسې باغونه دي، چې لاندې ترې ويالې بهېږي.*

**ليکوونکې: رولا ابراهيم**

**له ولايه سوريې څخه**

**۱۴۳۸هـ.ق، د محرم ۲مه**

**۲۰۱۷م، د سپټمبر ۲۷مه**

**ژباړن: شجاع**